پورته اوسط چی د ميانی څخه لوی دی . د 159.6 ارزښت تر اغيزی لاندی راغلی دی . منځنی (ميانه)د اوسط په پرتله خورا پياوړی ده او دلوړ ارزښت لرونکی ډاټا تر اغيزی لاندی نه راځی .

استاد عبدالاحد ارين

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال :د فوټبال يوې لوبډلې په تېرو ۴۴ لوبو کې لاندې شمېر ګولونه کړي دي

| Number of goals | 0 | 1 | 2 | 3 | 4 |
|---|---|---|---|---|---|
| Frequency | 9 | 8 | 15 | 9 | 3 |

لکه څنګه چې n = 44، میانه به د 22 او 23 مشاهدو تر منځ نیمه لاره کی پروت وي. څکه چې دواړه $x_{(22)}$ او $x_{(23)}$ 2 دي، منځنی ارزښت 2 دی.

د ډله ایزو(ګروپ سوی ،راټول سوی ملوماتو) معلوماتو لپاره، د منځني(میانی) اټکل کولو ترټولو اسانه لار د ګرافیکي میتودونو څخه ده.

د میانی زیانونه:

د منځنۍ کارول دوه اصلي زیانونه لري.

په صنف بندی ( grouped data ) سوی ارقامو کی میانه:

په صنف بندی سوو ارقامو (ډاټا ) کی میانه د لاندی فورمول په مرسته په لاس راځی

$$Me = L + \left( \frac{N/2 - f_0}{f_1} \right) \times h$$

L د منځنۍ (میانی) د کلاس ټیټ حد

N د ټولی تراکمی فریکونسۍ شمیر

$f_0$ د میانی د کلاس څخه د مخکنی کلاس تراکمی فریکونسۍ

$f_1$ د میانی د طبقې فریکونسۍ

h = د صنفونو انتروال

مثال:

(c) ketabton.com: The Digital Library






- **L** = 60.5
- **N** = 21
- $\mathbf{f_0} = 2 + 7 = 9$
- $\mathbf{f_1} = 8$
- **h** = 5

$$Me = L + \left(\frac{N/2 - f_0}{f_1}\right) \times h$$

$$Me = 60.5 + \left(\frac{\frac{21}{2} - 9}{8}\right) \times 5 = = 60.5 + 0.9375$$

$$= 61.4375$$

1 بېلګه: د لسم ټولګي د 50 هلکانو د لوړوالي په اړه یوه سروې په یوه ښوونځي کې ترسره شوې او لاندې معلومات تر لاسه شویدی. میانه یی پیدا کړی

| **Height (in cm)** | 120-130 | 130-140 | 140-150 | 150-160 | 160-170 | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **Number of boys** | 2 | 8 | 12 | 20 | 8 | 50 |

حل : د دی لپاره چی میانه پیداکړو موږ تراکمی فریکونسی ته اړتیا لرو ،او دپیداکولو لپاره یی لاندی جدول ترتیبوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



| **Class Intervals** | **No. of boys ($f_i$)** | **Cumulative frequency (c)** |
|---|---|---|
| **120-130** | **2** | **2** |
| **130-140** | **8** | **2 + 8 = 10** |
| **140-150** | **12** | **10 + 12 = 22** |
| **150-160** | **20** | **22 + 20 = 42** |
| **160-170** | **8** | **42 + 8 = 50** |

Median class 150-160

$$f_1 = 20, \quad f_0 = 22$$

$$, \qquad Me = L + \left(\frac{N/2 - f_0}{f_1}\right) \times h \; N = 50, \quad L = 150, \quad h = 10$$

$$Me = 150 + \left(\frac{50/2 - 22}{20}\right) \times 10 = 150 + 1.5 = 151.5$$

**2.9 مود (Mode)**

مود دیو لړارقاموهغه نقطه ده چې تر ټولو لوړه او زیاته فریکوینسي ولري.

دمثال په توګه:11,11,12,12,13,13,13,13,14,15,15,16,16,13

دارقامو مود13 دی ځکه چې فریکوینسي یې 5 ده که چیرې دارقاموفریکوینسي سره مساوي وي نو مود محاسبه کیدلاي شي .

دمثال په ډول:20, 25,2,7,16,19مود نلري

2,2,2,7,7,7,6,6,6,19,19,19

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارقام مود نلري ځکه چې ټول اعداديوشان فريکوينسي لري ددې امکان شته دی چې يو لړ ارقام يومود،دوه موده اويا څوموده ولري .دمثال په توگه دا ارقام ولرو.

د مثال: په ډول دا ارقام لرو11,11,12,12,12,13,13,13,14,14,14,14,5

په دې حالت کې مود دهغو دوه همجوارو قيمتونو حسابي اوسط دی چې يو شان فريکوينسي ولري او قيمت يې زيات دی يعني 13 او 14 يو شان فريکوينسي لري او فريکوينسي يې ترنورو لوړه ده هر يو يې مود دی يعني پورتني ارقام دوه موده دی

Mod= {13, 14}

مثال :د5,6,7,1,6,8,5,6,6 ارقامو مود 6 دی يعني Mod= 6

مثال:لاندی ارقامو مودپيدا کړی؟

A= {5, 5, 5, 5,}

B= {10, 20, 30, 40}

حلC= {19, 20, 19,  25}

Mode (A) =5

Mode (B) تعريف شوی نه دی

Mode (C) =19

2 بيلگه : دلاندی ارقامو مود پيدا کړی

A= {21, 22, 29, 35, 21, 21}

B= {2, 5, 1, 1/2, 1,1/2, 2, 0, 5, 1/2}   C= {100, 95, 100, 95, 85, 90}

استاد عبدالاحد ارين

(c) ketabton.com: The Digital Library



دارقامو مودونه په لاندې ډول دي .

Mode (A) =21

Mode (B) = ½

Mode (c) = {100, 95}

لیدل کیږي چې دC سیټ دوه موده دی که هغه مرتب کړو لیکو چې .

C={80,85,90,95,95100,100}

$$Mode(c) = \frac{95+100}{2} = \frac{195}{2} = 97.5$$

که یو سیټ دوه موده وي نو دمحساباتو له پاره بیا له پورتني میتود څخه کار اخلو که ارقام تصنیف شوي وی نو د مود محاسبه ددې فورمول په مرسته په لاس راځی .

$$Mode = L_1 + \left( \frac{\Delta_1}{\Delta_1 + \Delta_2} \right)$$

چې دلته L دفریکوینسي دهغه صنف لاندیني سرحد دی چې مودپکې قرارلري $\Delta_1$ دمود دصنف فریکوینسي فرق دمخکني همسایه سره .

$\Delta_2$ دمود دصنف دفریکوینسي فرق دوروستني (ورپسي) همسایه سره .

C دمود دصنف صنفي عرض دی .

مثال :که (10-4 ) جدول په پام کې ونیسو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$L_1 = 144.5 \qquad \Delta_1 = 12 - 9 = \Delta_2 = 12 - 5 = 7.c = 9$$

$$Mod = 144.5 + \frac{3}{3+7}9$$

$$Mod = 144.5 + \frac{27}{10} = 144.5 + 2.7 = 147.2$$

که دمود دپاسني سرحد څخه کار واخلو نودمود پيداکولو لپاره له دې فورمول څخه کار اخلو

$$Mod = l_2 - \frac{\Delta_2}{\Delta_1 + \Delta_2}.c$$

$$Mod = 153.5 - \left(\frac{7}{3+7}\right).9 = 153.5 - \frac{7}{9}.9$$

$$Mod = 153.5 - \frac{63}{10} = 153.50.6.3$$

$$Mod = 147.2$$

**په منحني کي داوسط ، ميانه اومود مقايسه :-**

1 – که چيري دارقامو دسيټ ددفعاتو درسم شوي منحني لمن ښي طرف ته پراختياولري نو ميانه به له رياضيکي اوسط څخه کوچني وي



Mo <   Me <  Mean

(c) ketabton.com: The Digital Library



2 – که چيري دارقامو دويش منحني متناظر( Symmetric ) وی یعني دواړوخواووته يوبرابروي نوپه

دي صورت کیاوسط اومیانه يوپربل منطبق دي .لکه



$\overline{x}$=Mo=Me

3 – که چيري دارقاموددفعاتودگراف کوږوالي ( انحراف Skewed ) چپ طرف ته وي نواوسط به يي کینې

خواته اوتر میاني کوچني وي .

داوسط ، میاني اومود ترمنځ اړیکه :

1 – که چيري توضیع متناظر وي نواوسط ، میانه اومود يوله بل سره مساوي دي.

mean = median = mode

2- که چيري توذیع متناظرنه وي نودلاندي فرمولونوڅخه استفاده کیږي .

Mode =maen – 3(mean-median)

= 3median- 2 mean

یاMean- mode = 3(mean- median)

(c) ketabton.com: The Digital Library



Mode = 3median- 2mean

مثال :- دلاندي معلوماتوڅخه مود پیداکړي .همدارنګه یي داوسط اومیاني سره رابطه پیداکړي .

| Class | 13-17 | 18-22 | 23-27 | 28-32 | 33-37 | 38-42 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Fi | 1 | 1 | 2 | 3 | 2 | 1 |

### 2.9 پراختیا (وسعت)Range

دخوریدو (پراګندګی) ډیر ساده مقیاس دی د اړوندي سلسلي د کوچني او لوي عدد تر منځ له توپیر څخه عبارت دی، اویا د اعدادو په یوه لړۍ کې دلوړي نمري او ټیټي نمري ترمنځ له تفاضل یعني ښه والي څخه عبارت دی، چې په سمبولیکه بڼه پدې ډول ښودل کېږي.

$$R = X_{max} - X_{min}$$

په دې رابطه کې R پراختیا (وسعت)، $X_{max}$ لوړه نمره او $X_{min}$ ټیټه نمره ښیي.

که چېږي د یوې ازمویني نمري د دفعاتو د وېشنې په بڼه راپور ورکړل شوي وي. په دې صورت کې د نمرو پراختیا (وسعت) د ټیټي او لوړي وېشنې ترمنځ له ښه والي (تفاضل) څخه عبارت دی. پراختیا (وسعت) لکه نوري اندازي د واټن خورېدل ښیي.

پراخوالي یا وسعت په لاندي شمیرو کې 2,3,5,7,11,29,35 عبارت دی له:

$$35 - 2 = 33$$

مثال: د 10 شاګردانو د نورو ریکارډ په لاندي ډول دي فاصله یې پیداکړئ؟

30, 20, 23, 44, 60, 75, 90, 40, 50, 51

$X_{max} = 90$ $\qquad$ $Range = X_{max} - X_{min}$

$X_{min} = 20$ $\qquad$ $Range = 90 - 20 = 70$

په فاصله کې د انحراف ضریب

په فاصله کې د انحراف ضریب دلاندې فورمول پواسطه پیدا کولای شو:

$$C.R = \frac{X_{max} - X_{min}}{X_{max} + X_{min}} \Rightarrow CR = \frac{R}{X_{max} + X_{min}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



2,4,8,10,16,20,6

$$C.R = \frac{X_{max} - X_{min}}{X_{max} + X_{min}} = \frac{20-2}{20+2} = \frac{18}{22} = \frac{9}{11} = 0.082$$

په تصنيف شوو ارقامو کې پراخوالي يا وسعت د کوچني ټولګي د ښکتني حد ترمنځ او د لوي ټولګي د پورتني حد تر منځ له توپير څخه عبارت دئ.

دمثال په ډول: د 142 کورنيو د کلني عايد پراختيا په 1385 کال کې نظر جدول ته له

$69.99 - 66.0 = 3.99$ څخه عبارت دی يعني 3.99 افغاني دې.

دپراخوالي (وسعت) د سنجش پيرودل (اخيستل) په يوه سلسله اړوندو شميرو کې دهغه په ساده والي پوري تړلي دي په ځينو ځايونو کې په خاصه توګه اعظمي او اصغري حد، قيمتونو تحول په مارکېټ کې يا د اوربښت د حرارت درجه، د توليد د کيفيت يا جنسيت کنټرول، يا حتا داوسط په اټکل يا تخمين کې په کارېږي.

**په غير متمادي ډآتا کې د فاصلې محاسبه:**

په غير متمادي ډآتا کې د فاصلې د محاسبې په وخت کې د دفعاتو د ستون څخه صرف نظر کېږي. يعني د فاصلې محاسبه يوازي د ارقامو په ستون کې اجراکيږي.

مثال: د لاندي ډيټا څخه فاصله او د فاصلې ضريب محاسبه کړئ؟

| $x_i$ | 43 | 64 | 78 | 96 | 100 | 150 | 230 | 240 | 261 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $f_i$ | 100 | 105 | 91 | 82 | 61 | 31 | 70 | 88 | 67 |

$$Range = X_{max} - X_{min}$$

$$R = 261 - 43 = 218$$

$$C.R = \frac{X_{max} - X_{min}}{X_{max} + X_{min}} = \frac{261-43}{261+43} = \frac{218}{304} = 0.7171$$

**په متمادي ډآتا کې د فاصلې محاسبه:**

مثال: د لاندي ډيټا څخه فاصله او د فاصلې ضريب محاسبه کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



| Marks | No of students |
|---|---|
| 10 – 20 | 8 |
| 20 – 30 | 10 |
| 30 – 40 | 12 |
| 40 – 50 | 8 |
| 50 – 60 | 4 |

$$C.R = \frac{X_{max} - X_{min}}{X_{max} + X_{min}} = \frac{60 - 10}{60 + 10} = \frac{50}{70} = 0.714$$

د پراختیا (وسعت) ښدېګنې:

1. دا طریقه ډېره اسانه ده.
2. دا فقط د مشاهدو دوو عددونو ته ضرورت لري.

باید وویل شي چې دا په هغو حالاتو کې چې د ټولو مشاهدو د پیل او پای اعداد مهم و برېښي ښه کار ورکوي لکه: د تودوخي د درجې فرق، په مارکیټ کې د بَیو د اعظمي حد بدلونونه، دیوې کروندې ډېر لوړ او کم حاصل ترمنځ فرق، د اوربښت د لوړې او ټیټې اندازې فاصله، د زده کوونکو د ذکاوت او نمرو ترمنځ تو پیر او نور مثالونه.

د پراختیا (وسعت) نیمګړتیاوې:

**پراختیا (وسعت) نظر لاندي څو دلیلونوته لږ د استعمال وړدي.**

1. دپراختیا (وسعت) برخه په دوه اعظمي او اصغري ارزښت پوري اړوندیږي، چې د اعدادو خورتیا په توګه نشي توضیح کولای .
2. په منځنۍ ډول د هرې مشاهدې تر منځ تفاوت او انحراف نشي ښودلای.
3. د پراختیا (وسعت) ارزښت په زیاتره اعدادو یا په غیر عادي ارزښتونو کې شدیداً متاثیره کیږي.

لکه په دوو لاندي لړیو کې:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3 | 5 | 6 | 7 | 10 | 12 | 15 | 18 |
| 3 | 8 | 8 | 8 | 9 | 9 | 9 | 18 |

$$Range_1 = 18 - 3 = 15$$

$$Range_2 = 18 - 3 = 15$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د $15 = 3 - 18$ پراختيا (وسعت) څرنګه چې لړی يي له ځانه لري د بيلا بيلو خوريدو لرونکي ده.

د پراختيا (وسعت) ارزښت نظر دنموني اندازې ته له حده وتلي (فاحش) بدلون پيداکوي.

په پورته يادوشوو دوو لړيو کې که چيري دوه وروستي يا انتهايي عددونه حذف کړو.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 5 | 6 | 7 | 10 | 12 | 15 |
| 8 | 8 | 8 | 9 | 9 | 9 |

$$Range_1 = 15 - 5 = 10$$

$$Range_2 = 9 - 8 = 1$$

پراختيا (وسعت) په لومړی لړی کې $15 - 5 = 10$ او په ودیمه لړی کې $9 - 8 = 1$ دې.

**2.10 پراګندګی (خوريدل) ( dispersion)**

**واريانس (Variance)**

دا اصطلاح په 1918م کال کی د (R.A. Fisher) په واسطه معرفی شوه.واريانس هم د انحراف يو مهم مقياس دی.

واريانس په لغت کې خپوروالی ته وايې . چې رياضيکی تعريف په لاندی ډول دی .




**بغير له جدوله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



1 . نمونه
$$S^2 = \frac{\sum_{i=1}^{n} X_i^2 - \frac{\left(\sum x_i{}^2\right)}{n}}{n-1}$$

2.جميعت
$$\sigma^2 = \frac{\sum_{i=1}^{n} X_i^2 - \frac{\left(\sum x_i{}^2\right)}{n}}{N}$$

**جدول کې**

1. نمونه
$$S^2 = \frac{\sum_{i=1}^{k} X_i^2 \; Fi - \frac{\left(\sum x_i{}^2\right)}{n}}{n-1}$$

2.جمعيت.
$$\sigma^2 = \frac{\sum_{i=1}^{k} X_i^2 \; Fi - \frac{\left(\sum x_i{}^2\right)}{N}}{N}$$

د پورته فورمولو ثخه يوثبوتوو او يايی زړه ته رانيژدی لوستونکوته د بني زدکړی په موخه پريژدو.

$$\sigma^2 = \frac{\sum_{i=1}^{N}(X_i - \mu^2)}{N} = \frac{\sum_{i=1}^{N}(x_i + \mu^2 - 2x \, . \mu)}{N}$$

$$= \frac{\sum X_i{}^2 + \mu^2 \sum 1 - 2\mu \sum X_i}{N} = \frac{\sum X_i{}^2 + N\mu^2 - 2(\frac{\sum X_i}{N}).\sum X_i}{N}$$

$$= \frac{\sum \mathrm{X_i}{}^2 + N\frac{(\sum x_i{}^2)}{N^2} - \frac{2(\sum X_i{}^2)}{N}}{\mathrm{N}} = \frac{\sum \mathrm{X_i}{}^2 + \frac{(\sum \mathrm{X_i}{}^2)}{\mathrm{N}} - \frac{(\sum \mathrm{X_i}{}^2)}{\mathrm{N}}}{\mathrm{N}} = \frac{\sum \mathrm{x_i}{}^2 + \frac{-(\sum \mathrm{X_i}{}^2)}{\mathrm{N}}}{\mathrm{N}}$$

$$\Rightarrow \sigma^2 = \frac{\sum \mathrm{X_i}{}^2 - \frac{(\sum \mathrm{X_i}{}^2)}{\mathrm{N}}}{\mathrm{N}}$$

لومړی مثال: په ۱۳۷۹ کال کې ۱۵ کتابتونونوپه لاندې ډول کتابونه چاپ کړي د هغوی واريانس محاسبه کړئ.

1 2 2 3 4 4 5 6 8 9 9 10 10 10 11

(c) ketabton.com: The Digital Library



حل:

| | | |
|---|---|---|
| $X_i$ | 1 2 2 3 4 5 6 8 9 9 10 10 10 11 | 94 |
| $X_i^2$ | 1 4 4 9 16 25 36 64 81 81 100 100 100 121 | 758 |

$$\sigma^2 = \frac{\sum_{i=1}^{15} x_i^2 - \frac{(\sum X_i^2)}{15}}{15} = \frac{758 - \frac{(94)^2}{15}}{15} = 11.27$$

$$\mu^2 = \frac{\sum_{i=1}^{15} X_i}{N} \Rightarrow \mu = \frac{94}{15} = 6.27$$

دوهمه طریقه:

$$\sigma^2 = \frac{\sum(x_i-\mu)^2}{N} = \frac{(1-6.27)^2+18.23+\cdots+22.37}{15} = 11.26 \qquad \sigma^2 = 11.26$$

دویم مثال: په هلمند ولایت کې دیوې کارخانې د ۸۰ کارکوونکو څخه د ۱۴ تنو خطاوې په لاندې ډول دی، واریانس یې پیداکړ

0.01 0.01 0.01 0.02 0.02 0.03 0.05

0.07 0.07 0.07 0.08 0.10 0.15 0.20

حل:

N=80 , n=14

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$s^2 = \frac{\sum_{i=1}^{n} X_i{}^2 - \frac{(\sum X_1)^2}{n}}{N-1} = \frac{0.0981 - \frac{(0.89)^2}{14}}{14-1} = 0.003 \qquad s^2 = 0.003$$

دریم مثال: که چیری د ۳۰ ګروپونو شرح په لاندې ډول وی، واریانس یی پیداکړ.

| I | $X_i$ | $f_i$ |
|---|---|---|
| 1 | 0 | 5 |
| 2 | 1 | 7 |
| 3 | 2 | 11 |
| 4 | 3 | 4 |
| 5 | 4 | 2 |
| 6 | 5 | 1 |
| | | 30 |

حل:

| I | $X_i$ | $f_i$ | $X_i{}^2$ | $X_i f_i$ | $f_i X_i{}^2$ |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 0 | 5 | 0 | 0 | 0 |
| 2 | 1 | 7 | 1 | 7 | 7 |
| 3 | 2 | 11 | 4 | 22 | 44 |
| 4 | 3 | 4 | 9 | 12 | 36 |
| 5 | 4 | 2 | 16 | 8 | 32 |
| 6 | 5 | 1 | 25 | 5 | 25 |
| | | 30 | | 54 | 144 |

$$\sigma^2 = \frac{\sum_{i=1}^{6} X_i{}^2 f_i - \frac{(\sum X_i f_i)^2}{30}}{30} = \frac{144 - \frac{(54)^2}{30}}{30}\ 1.56 \quad \sigma^2 = 1.56$$

**د واریانس ضریب**

د واریانس ضریب چي په C.V شکل سره ښودل کیږي عبارت دی له:

$$C.V = \frac{S}{\bar{x}} \times 100$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال : یوه کارخانه د موټرو دوه ډوله ټایرونه تولیدوي. د A ډول لپاره اوسط عمر 10000 کیلومتره او دانحراف معیار یې 2000 کیلومتره او د B ډول ټایر لپاره متوسط عمر 11000 کیلومتره او معیاري انحراف یې 1000 کیلومتره دی. کوم ټایر بهتر دی؟

$$A = \quad C.V_A = \frac{S_A}{\bar{x}_A} \times 100 = \frac{2000}{10000} \times 100 = 20\%$$

$$B = \quad C.V_B = \frac{S_B}{\bar{x}_B} \times 100 = \frac{1000}{110000} \times 100 = 9\%$$

د B نوعه ټایر بهتر دی، ځکه هم د هغې اوسط عمر ډیر دي او هم د هغې د تغیر ضریب کوچنی دی.

### 2.11 وسطي انحراف

وسطي انحراف یا انحراف نظر اوسط ته څرنګه چې له نامه څخه یې څرګندیږي، دیوي لړۍ دانحراف له حسابي اوسط یا دیوي سلسلې شمیرو له مطلقه توپیر نظر یوه وسطي عدد ته لکه حسابي اوسط یا له میدیان څخه عبارت دی.

که څه هم په عمل کې حسابي اوسط زیاتره د یو وسطي ارزښت په توګه په کار اچول کیږي خو دتیوري له پلوه د اعدادو دانحراف مجموع نظر میدیان ته لږه اندازه ده، (البته مطلقه توپیر) ښه ده چې په سنجش کې انحراف استعمال شي. په هر حال هغه ډول اوسط چې دوسطي انحراف په سنجش کې په کار اچول کیږي باید څرګند شي.

وسطي انحراف په تصنیف شوو اعدادو کې چې $\bar{X}$ وسطي ارزښت وي د لاندي فورمول په مرسته ویشل کیږي.

$$MD = \frac{\sum|X - \bar{X}|}{n} = \frac{\sum|X|}{n} = \frac{\sum|d|}{n} \cdots (2)$$

پدې ځای کې: $MD$ وسطي انحراف، X دیوي لړۍ یا سلسلې شمیري یا اعداد، $\bar{X}$ حسابي اوسط، n داعدادو یا کتنو (مشاهداتو)اندازه او $d$ یا $X_1 - \bar{X} = X$

عمودي کرښي (خطوط) مطلقه ارزښت (پرته له اشاري څخه) افاده کوي.

مثال: د2,3,6,8,11 اعدادو وسطي انحراف پیداکړئ.

لومړی: باید د شمیرو حسابي اوسط سنجش شي :

$$\bar{X} = \frac{\sum X}{n} = \frac{2+3+6+8+11}{6} = 6$$

ورسته داعدادو مطلقه انحراف نظر اوسط ته محاسبه کوو.

$$MD = \frac{|2-6| + |3-6| + |6-6| + |11-6| + |8-6|}{5} = 2.8$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني ورکړل شوي اعداد د 2.8 په اندازه له حسابي اوسط څخه انحراف لري، وسطي انحراف کولای شونظر مديان ته هم سنجش کړو يعني.

$$AD = \frac{\sum|X - Med|}{n} \cdots (3)$$

مثلاً:په پورته اعدادو کې مديان 6 دي څرنګه چي $x = Med$ په دي مثال کي دواړه ډوله وسطي ارزښت مساوي دي .

مثالونه که ډاتا صنف بندي شوې نه وې:

مثال: لاندي د ازمويني نمرو لپاره وسطي انحراف او مياني څخه محاسبه کړئ او همدارنګه د وسطي انحراف ضريب محاسبه کړئ؟

32, 36, 37, 39, 36, 41, 48, 36

حل:مور لومړئ ورکړل شوې نمرې په صعودې ډول ترتيبو او مېانه يې پيدا کوو.

32, 36, 36, 37, 39, 41, 45, 46, 48

$$Med = \frac{9+1}{2} = 5^{th} term$$

$$Med = 39\ Marks$$

$$\bar{X} = \frac{\sum xi}{n} = \frac{32 + 36 + 36 + 37 + 39 + 41 + 45 + 46 + 48}{9}$$

$$= \frac{360}{9} = 40$$

| Xi | $xi - \bar{x}$ | $\|xi - \bar{x}\|$ | $\|xi - Med\|$ |
|---|---|---|---|
| 32 | -8 | 8 | 7 |
| 36 | -4 | 4 | 3 |
| 36 | -4 | 4 | 3 |
| 37 | -3 | 3 | 2 |
| 39 | -1 | 1 | 0 |
| 41 | 1 | 1 | 2 |
| 45 | 5 | 5 | 6 |
| 46 | 6 | 6 | 7 |
| 48 | 8 | 8 | 9 |
| $\sum = 360$ | 0 | 40 | 39 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$MD = \frac{\sum|xi - \bar{x}|}{n} = \frac{40}{9} = 4.4\,Marks$$

$$MD = \frac{\sum|xi - Med|}{n} = \frac{39}{9} = 4.3\,Marks$$

$$CMD = \frac{MD}{\bar{x}} = \frac{4.4}{40} = 0.11$$

$$CMD = \frac{MD}{Med} = \frac{4.3}{39} = 0.11$$

مثال: په لاندې ډول د 10 شاګردانو د احصائيي نومرې راکړل شويدي وسطي انحراف يې پيداکړئ؟

10, 20, 30, 40, 50, 60, 70, 80, 90, 100

$$\bar{x} = \frac{\sum xi}{n} = \frac{10+20+30+40+50+60+70+80+90+100}{10} = \frac{550}{10} = 55$$

$$MD = \frac{\sum|xi - \bar{x}|}{n} = \frac{45+35+25+15+5+5+15+25+35+45}{10} = 25$$

**2.12 په غير صنف بندی سوی داتا کی وسطی انحراف:**

مثال: د کرنې‌ز اقتصاد ديپارتمنت 90 شاګردانو 15% نومرو صنفي ټيسټ نتيجه په لاندې ډول راکړې شوېده، وسطي انحراف يې له حسابي اوسط څخه په لاس راوړئ؟

| $x$ | $fi$ | $xi$ | $fi.xi$ | $\lvert xi-\bar{x}\rvert$ | $fi\lvert xi-\bar{x}\rvert$ |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 – 3 | 10 | 2 | 20 | 6 | 60 |
| 4 – 6 | 20 | 5 | 100 | 3 | 60 |
| 7 – 9 | 30 | 8 | 240 | 0 | 0 |
| 10 – 12 | 20 | 11 | 220 | 3 | 60 |
| 13 - 15 | 10 | 14 | 140 | 6 | 60 |
| | $\sum fi = 90$ | ----- | $\sum fi.xi = 720$ | ----- | $\sum fi\lvert xi-\bar{x}\rvert = 240$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\bar{X} = \frac{\sum fixi}{n} = \frac{720}{90} = 8$$

$$\bar{X} = \frac{\sum fi|xi - \bar{x}|}{n} = \frac{240}{90} = 2.6$$

مثال: ديوې علمي څيړنې لپاره د بيلا بيلو بوټو د 100 ټوټو اندازه په لاندې جدول کې ورکړل شوې ده، وسطي انحراف يې وسنجوئ؟

| $X$ | $fi$ | $xi$ | $fi.xi$ | $\|xi - \bar{x}\|$ | $fi\|xi - \bar{x}\|$ |
|---|---|---|---|---|---|
| 40 – 59.9 | 1 | 45 | 45 | 36.6 | 36.6 |
| 50 – 59.9 | 5 | 55 | 275 | 26.6 | 133.0 |
| 60 – 59.9 | 11 | 65 | 715 | 16.6 | 182.6 |
| 70 – 79.9 | 26 | 75 | 1950 | 6.6 | 171.6 |
| 80 – 89.9 | 33 | 85 | 2805 | 3.4 | 112.2 |
| 90 – 99.9 | 16 | 95 | 1520 | 13.4 | 214.4 |
| 100 – 109.9 | 7 | 105 | 735 | 24.4 | 163.8 |
| 110 – 119.9 | 1 | 115 | 115 | 33.4 | 33.4 |
| | $\sum fi = 100$ | ----- | $\sum fi.xi = 8160$ | ----- | $\sum fi\|xi - \bar{x}\| = 1047.6$ |

$$\bar{x} = \frac{\sum fixi}{n} = \frac{8160}{100} = 81.6$$

$$\text{MD} = \frac{\sum fi|xi - \bar{x}|}{n} = \frac{1047.6}{100} = 10.476$$

همدارنګه وسطي انحراف په تصنيف شوواعدادوکي کولای شود لاندينيوفورمولونوله جملي څخه ديو فورمول په مرسته سنجش کړو.

$$MD = \frac{\sum f|X-\bar{X}|}{f} = \frac{\sum f|d|}{\sum f} \cdots (4)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$AD = \frac{\sum f|X - Med|}{\sum f} = \frac{\sum f|d|}{\sum f} \cdots (5)$$

په دوارو پورتنيو فورمولونو کي $f$ دټولګيو فريکونسي، $X$ دټولګي وسط، $\bar{X}$ او $Med$ په ترتيب سره حسابي اوسط اودارونډي وېشني ميديان دي.

دوسطي انحراف سنجش نسبتاً ساده اوعام فهمه دي اما داستعمال موارد يې محدود دي. دوسطي انحراف استعمال دکوچنيو نمونو په اړه په صورت کې چي دقيق اوجامع تحليلونوته اړتيا نه وي ګټوردي په تصنيف شويو اعدادو او لويو نمونو کي په ندرت سره استعمالېږي.

دالجبر له نظره د مطلقه توپيرونو په کار اچول دسوال قابليت لري. ځکه چي ددي توپيرونو مجموعه په هغه

صورت کي چي اشاري ته ونيول شي مساوي په صفر ياهم تقريبا صفر ته نږدي دئ

## 2.13 معياري انحراف يا استندرد انحراف

معياري يا استندرد انحراف د انحراف ډېر مهم مقياس دي او نظر اوسط ته د انحراف يوه ځانګړي بڼه ده. د معياري انحراف او وسطي انحراف تر منځ توپير دادي چي په لومړني کي د انحراف مربع نظر حسابي اوسط ته سنجول کېږي، په داسي حال کي چي دويم يي مطلقه انحراف څخه کار اخلي. معياري انحراف دبل مهم مقياس مربع جذريعني وريانس څخه عبارت دي اويا معياري انحراف دانحرافاتومربع جذردي

معياري انحراف اووريانس په يوسلسله اعدادوکي دلاندي فورمولونوپه مرسته سنجش کيږي:

$$\delta^2 = \frac{\sum(x - \bar{X})^2}{n}$$

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum(x - \bar{X})^2}{n}}$$

په دي فورمول کي $\delta$ (ديونان دژبي کوچني توري دسيګما په نوم) معياري انحراف او $\delta^2$ واريانس افاده کوي.

دمثال په ډول: د 2,3,6,8,11 اعدادو واريانس اومعياري انحراف په لاندي توګه لاسته راځي.

$$\bar{X} = \frac{\sum x}{n} = \frac{30}{5} = 6$$

$$\delta^2 = \frac{(2-6)^2 + (3-6)^2 + (6-6)^2 + (11-6)^2 + (8-6)^2}{5} = \frac{54}{5} = 10.8$$

$$\delta = \sqrt{\delta^2} = \sqrt{10.8} = 3.29$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم مثال: په يوه صنفي ازموينه کې زده کوونکو لاندي نمري لاسته راوړي دي.

4,6,8,10,12

ددغو نمرو د معياري انحراف څرګندده ده، د نوموړو نمرو انحرافي محاسبه په لاندي جدول کې ښودل شويده.

| $X$ | $X = X - X^2$ | $X^2$ | |
|---|---|---|---|
| 12 | $12 - 8 = 4$ | 16 | $\bar{X} = \frac{40}{5} = 8$ |
| 10 | 2 | 4 | |
| 8 | 0 | 0 | |
| 6 | -2 | 4 | |
| 4 | -4 | 16 | |
| $\sum X = 40$ | $\sum X = 0$ | $\sum X^2 = 40$ | |

که چېرې د $\sum X^2$ او N قيمتونه د معياري انحراف په فورمول کې وضع کړو نو وبه لرو.

$$S = \sqrt{\frac{\sum X^2}{N}} \cdots (7)$$

$$S = \sqrt{\frac{40}{5}} = \sqrt{8} = 2.814$$

د (7) فورمولونو تطبيق په بعضې حالاتو کې په ځانګړي توګه کله چې د اعدادو تعداد زيات اوږد شي يا د څو اشارو درلودونکې وي نو د زيات وخت او زحمت ته ضرورت لري. لذې وجې بنه طريقه هم وجود لري.

هر کله چې مخکنيو فورمولونو ته پراخوالي ورکړو نو لور چې:

$$\sum (X - \bar{X})^2 = \sum (X - 2\bar{X}X + \bar{X}^2)$$

$$\sum X^2 - 2\bar{X} \sum X + n\bar{X}^2$$

$$\sum X^2 - 2\bar{X} \sum X + \bar{X} \sum X$$

$$\sum X^2 - \bar{X} \sum X$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\sum X^2 - \left(\frac{\sum \bar{X}}{n}\right)^2$$

نظر دې رابطي ته کولای شو چې (7) فورمول د دوهم ځل لپاره پدې ډول وليکو:

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum(X-\bar{X})^2}{n}} = \sqrt{\frac{\sum X^2 - \frac{\sum X^2}{n}}{n}} = \sqrt{\frac{\sum X^2}{n} - \left(\frac{\sum X}{n}\right)^2} \cdots (8)$$

لکه 2,4,6,8,11 په شميرو کې:

$$\delta = \sqrt{\frac{234}{5} - \left(\frac{30}{5}\right)^2} = \sqrt{90.8} = 3.29$$

هرکله چې د يو لړۍ اعدادو انحراف نظر فرضي ثابت (A) ته وسنجول شي، نو معياري انحراف کولای شو د لاندي فورمول په وسيله تر لاسه کړو.

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum d^2}{n} - \left(\frac{\sum d^2}{n}\right)^2} \cdots (9)$$

ثبوت:

$$d = X - A \ \wedge \ X = A + d$$

$$\bar{X} = \frac{\sum X}{n} = \frac{\sum(A+d)}{n} = \frac{nA}{n} + \frac{\sum d}{n} = A + d$$

$$X - \bar{X} = (A+d) - \left(A + \bar{d}\right) = d - \bar{d}$$

$$\delta = \frac{\sum\left(d - \bar{d}\right)^2}{n} \cdots (10)$$

نظر مخکېنو عمليو ته کولای شو چې (8) فورمول په اړه وليکو:

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum d^2}{n} - \left(\frac{\sum d^2}{n}\right)^2}$$

مثلا، د 5 مخکنيو شميرو په اړه لرو چې:

| $x$ | $d$ | $d^2$ |
|---|---|---|
| 2 | -1 | 1 |
| 3 | 0 | 0 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| 6 | 3 | 9 |
| 8 | 5 | 25 |
| 11 | 8 | 64 |
| جمع | 15 | 99 |

$$d = x - A \wedge A = 3$$

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum d^2}{n} - \left(\frac{\sum d}{n}\right)^2}$$

$$\delta = \sqrt{\frac{99}{5} - \left(\frac{15}{5}\right)^2}$$

$$\delta = \sqrt{19.8} = 3.29$$

دتصنيف شوو شميرو معياري انحراف پورتنيو فورمولونو ته ورته (مشابه) هم كولاى شو په څولارو سنجش كړو. په هغه صورت كي چي د ټولګي وسط او اړوندي فريكونسي ګاني په كار واچوو كولاى شوله لاندي فورمول څخه استفاده وكړو.

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum f(X - \bar{X})^2}{\sum f}} = \sqrt{\frac{\sum f d^2}{\sum f}} \cdots (11)$$

په دي ځاى كي $f$ فريكونسي ګاني، $X$ دټولګي وسط او$\bar{X}$ داړوندي ويشني حسابي اوسط دي او $d = x - \bar{x}$ وضع شوي دي. دافورمول څرنګه چي دمخكني فورمول په اړه وركړل شوي دي كيداي شي داسي وليكل شي:

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum f X^2}{\sum f} - \left(\frac{\sum f X}{\sum f}\right)^2} \cdots (12)$$

همدارنګه كولاى شو چي لنډ فورمولونه هم را وباسو. كه چيري د اعدادو انحراف د (A) د يو فرضي او سط په توګه وسنجول شي يعني $d = X - A$ وي (يعني د (10) فورمول سره ورته) نو وبه لرو:

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum f d^2}{\sum f} - \left(\frac{\sum f d}{\sum f}\right)^2} \cdots (13)$$

او كه انحراف د ټولګيو د موقيعت په نظر يعني د ټولګي د واټن په حدونو څرګند كړو د ټولګيو د ګډ واټن په صورت كي ليكو چي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\delta = \sqrt{\frac{\sum f d'^2}{\sum f} - \left(\frac{\sum f d'}{\sum f}\right)^2} \cdot C \cdots (14)$$

په دې ځای کې d’ د ټولګي د ګډ واټن په نظر انحراف او C د ټولګیو ګډ واټن دی. باید یادونه وشي چې د (11) او (14) فورمولونو د واټن ځوابونه ورته یا مشابه وي.

د مثال په ډول، په دې ځای کې د (12) او (14) فورمولونه د 142 کورنیو د کلني عاید په وېشنه کې د ټولګي د واټن په واحدونو په لنډه طریقه تطبیق کړو.

د (12) فورمولونو تطبیق او عملیه په (1) جدول کې او همدارنګه (14) د فورمولونو تطبیق او عملیه په (2) جدول کې په لنډه توګه وړاندې شویده.

(12) فورمول نظر (1) جدول دارنګه لیکلای شو:

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum f X^2}{\sum f} - \left(\frac{\sum f X}{\sum f}\right)^2}$$

$$= \frac{653396.89}{142} - \left(\frac{9631.50}{142}\right)^2$$

$$= 4601.3865 - 4600.5698$$

$$= 0.8169 = 0.90$$

د (12) فورمول هم د انحراف د معیاري شکل تعریف لري. ددې فورمولونو تطبیق دزیات وخت نیول او ډیر کار ته ضرورت لري. په ځانګړې توګه کله چې عددونه اوږده او د کلاسونو تعداد زیات شي نو د (12) او (13) فورمولونه په دواړو حالاتو کې که فاصله مساوي وي او که نا مساوي کولای شو چې په کار یوسو. په هغه صورت کې چې د کلاسونو فاصله ګډه وي نو د (14) فورمول په تصنیف شوو اعدادوکې د معیاري انحراف لپاره لنډ ترینه او موثره طریقه ده.

(1) جدول د 142 کورنیو د کلني وسطي عاید د معیاري انحراف سنجش په کال 1355کی

| کلني وسطي عاید<br>زر افغانی | فریکونسي<br>*f* | د ټولګي وسط<br>*X* | $fX$ | $fX^2$ |
|---|---|---|---|---|
| 66.00-66.49 | 11 | 66.25 | 72875 | 48279.69 |
| 66.50-66.99 | 15 | 66.75 | 1001.25 | 66833.44 |
| 67.00-67.49 | 24 | 67.25 | 1614.00 | 108451.50 |
| 67.50-67.99 | 40 | 67.75 | 2710.00 | 183602.50 |
| 68.00-68.49 | 20 | 68.25 | 1365.00 | 43161.25 |
| 68.50-68.99 | 14 | 68.75 | 962.50 | 66171.88 |
| 69.00-69.49 | 11 | 69.25 | 761.75 | 52751.19 |
| 69.50-69.99 | 7 | 69.75 | 488.26 | 34055.44 |
| مجموعه | 142 | | 9631.50 | 653396.89 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



(2) جدول د 142 كورنيو د كلني عايد په وېشنه كې د معياري انحراف سنجش د ټولګي  په واحدونو په لنډه طريقه تطبيق كړو.

| كلني وسطي عايد زر افغانۍ | فريكونسي $f$ | $d'$ | $fd'$ | $fd'^2$ |
|---|---|---|---|---|
| 66.00-66.49 | 11 | 3 | 33 | 99 |
| 66.50-66.99 | 15 | 2 | 30 | 60 |
| 67.00-67.49 | 24 | 1 | 24 | 24 |
| 67.50-67.99 | 40 | 0 | 0 | 0 |
| 68.00-68.49 | 20 | 1 | 20 | 20 |
| 68.50-68.99 | 14 | 2 | 28 | 56 |
| 69.00-69.49 | 11 | 3 | 33 | 99 |
| 69.50-69.99 | 7 | 4 | 28 | 112 |
| مجموعه | 142 | | 22 | 470 |

نظر (2)  جدول ته (14) فورمول حل كولاى شو:

$$\delta = C.\sqrt{\frac{fd'^2}{f} - \left(\frac{fd'}{f}\right)^2} = 0.5\sqrt{\frac{470}{142} - \left(\frac{22}{142}\right)^2} = 0.5(1.81) - 0.15 = 0.83 \ (\text{زر افغانى})$$

په تصنيف شوو اعدادو كې معمولا د معياري انحراف ارزش يوڅه لږ لوړ دی. نظر په معياري انحراف كې په هغو اعدادو كې چې تصنيف شوي نه وي شنجول كېږي.

له تحليلي نګاه څخه د كلاسونو د فاصلو اندازه په تصنيف شوو اعدادو كې بايد كوچني وي دمعياري انحراف له ربع څخه.

له تشريحي نګاه څخه سربيره پر تيروتنو كولاى شو د كلاسونو دفاصلو اندازه حتي د معياري انحراف نيمايي شي.

استاد عبدالاحد ارين

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 2.13 نسبي انحراف (دانحراف ضریب)

کولای شو دوه یا زیاتې لړۍ (سلسلې) د اړوندو لړیو د اعدادو د خوریدنې (پراګندګی) د څرنګوالي د پوهیدو په غرض چې د پوره یا تقریبا ورته اوسطونو لرونکې وي پرتله (مقایسه) کړو، په ځینو حالاتو کې بیلا بیلې وېشنې بیل یا متفاوت اوسطونه لري او یا په بیلا بیلو واحدونو باندې څرکندیږي. په دې حالت کې د هغوی د معیاري انحراف پر تلنه نا ممکنه وي د بیګې په ډول د طب د ډاکترانو د کلنې عاید د وېشنې معیاري انحراف 1500 افغانۍ او د پوهنتون داستادانو معیاري انحراف 1000 افغانۍ وي پدې به دلالت ونکړي چې انحراف د طب د ډاکترانو په عاید کې د 150 سلنې په اندازې، انحراف د پوهنتون د استادانو په کلنې عاید کې وي، یواځې په هغه حالت کې کولای شو تعبیر کړو چې په دواړو ګروپونو کې د کلنې عاید اوسط مساوي وي. که د لومړنې ګروپ د کلنې عاید اوسط مثلاً 75000 او د دویمې 36000 وي د استادانو په عاید کې نسبي انحراف نظر دطب د ډاکترانو عاید ته زیات دې. په حقیقت کې د انحراف د دوو مطلقه ارزښتونو په منځ کې توپیر له له متفاوته اوسطونو سره په یوازیتوب (تنهایي) سره پرتلنې اساس نشي کیداي. دمقیاسونو په دې حالت کې باید مطلقه انحراف په نسبي انحراف تبدیل شي، ترڅو د اړوندو ویشنو د پرتلنې امکان میسر شي.

په دې ځای کې دري ډوله د نسبي انحراف مقیاس مطالعه کیږي.

- ☑ دمعیاری انحراف ضریب
- ☑ د وسطي انحراف ضریب
- ☑ د کوارټایلونو د انحراف ضریب

د معیاریانحراف ضریب

د نسبي انحراف له مقیاسونو څخه یو مقیاس چې په عمل کې زیات په کار اچول کیږي د نسبي انحراف ضریب دې، دا ضریب معمولاً په $V$ افاده کیږي او پر حسابي اوسط باندې د معیاري انحراف له نسبت څخه عبارت دی یعني:

$$V = \frac{\text{معیاري انحراف}}{\text{حسابي اوسط}} = \frac{\delta}{\bar{\bar{X}}} \cdots\cdots\cdots\cdots (15)$$

مثال د طب د ډاکترانو او د پو هنتون د استادانو د کلنې عاید په اړه د انحراف ضریبونه عبارت دی له:

$$V_1 = \frac{1500}{75000} = 0.2 \text{ یا } 2\%$$

$$V_2 = \frac{1000}{36000} = 0.028 \text{ یا } 2.8\%$$

### 2.14 د وسطي انحراف ضریب

د بلې خوریدنې نسبي مقیاس چې ډیر زیات معمول دی د وسطي انحراف د ضریب په نوم یادیږي چې لاندې په $V_a$ باندې اعاده شویدي چې پر حسابي اوسط باندې له وسطي انحراف څخه عبارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$V_a = \frac{\text{وسطي انحراف}}{\text{حسابي اوسط}} = \frac{MD}{\bar{X}}$$

که په یوه وېشنه کې د $\bar{X}$ حسابي اوسط او د $MD$ وسطي انحراف د هغو طریقو په اساس چې مخکې مطالعه شویدي پیدا کړو. د $(V_a)$ د وسطي انحراف ضریب هم په هغوی کې ویشو او په نسبت یا معمولاً په فیصدی يي څرګندوو.

د مثال په ډول په 2,3,6,8,11 پنځو عددونو کې څرنګه چې مو مخکې ولیدل.

$$\bar{X} = 6$$

$$MD = 2.8$$

د وسطي انحراف ضریب په دې اعدادو کې عبارت دی له:

$$V_a = \frac{MD}{\bar{X}} = \frac{2.8}{6} = 0.0466 \text{ یا } 46.6\%$$

هرکله چې وسطي انحراف نظر میدیان ته وسنجول شي د (3) فورمول به ولیدل شي، نو کولای شو چې (16) فورمول دارنګه ولیکو:

$$V_a = \frac{AD}{\bar{X}} \cdots (16)$$

په ځانګړي توګه په بعضي ځایونو او حالاتو کې، د دوو سرته رسیدلو کلاسونو په وروستیو کې یوه وېشنه خلاصیږي، او یا دغیر هادي ارزښتونو وېشنه وجود لري.

مثال: دلاندې دفعاتوتوزیع لپاره چې په هره ونه کې دمنو شمیر ښیي، وسطي انحراف یي محاسبه کړئ؟

| Classes | 65-84 | 85-104 | 105-124 | 125-144 | 145-164 | 165-184 | 185-204 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $fi$ | 9 | 10 | 17 | 10 | 5 | 4 | 5 |

**حل:**

| **classes** | $\boldsymbol{xi}$ | $\boldsymbol{fi}$ | $\boldsymbol{fi.xi}$ | $\boldsymbol{xi-\bar{x}}$ | $\boldsymbol{fi\|xi-\bar{x}\|}$ |
|---|---|---|---|---|---|
| **65-84** | **74.5** | **9** | **610.5** | **-48.0** | **432.0** |
| **85-104** | **94.5** | **10** | **945.0** | **-28.0** | **280.0** |
| **105-124** | **114.5** | **17** | **1946.5** | **-8.0** | **136.0** |
| **125-144** | **134.5** | **10** | **1345.0** | **12.0** | **120.0** |
| **145-164** | **154.5** | **5** | **772.5** | **32.0** | **160.0** |
| **165-184** | **174.5** | **4** | **698.0** | **52.0** | **208.0** |
| **185-204** | **194.5** | **5** | **972.5** | **72.0** | **360.0** |
| | | $\sum \boldsymbol{fi = 60}$ | **7350** | | **1696.0** |

استاد عبدالاحد ارین

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\bar{X} = \frac{\sum fixi}{n} = \frac{7350.0}{60} = 122.5gr$$

$$\text{MD} = \frac{\sum fi|xi - \bar{x}|}{n} = \frac{1696.0}{60} = 28.27gr$$

## 2.15 کوانټيلQuantiles

مخکې مو وويل چې ميانه معلومات په دوومساوی برخو ويشی، په همدې ترتيب کولی شو چی معلومات په څلورو،لسو او ياسلو مساوی برخو وويشو.

**د کوانټيل ډولونه: 1.**کوارټيل 2. ډسايل 3. پرسنټايل

**1. کوارټيل(Quartiles):** که چيری معلومات په څلورومساوی برخو وويشل شی، هری يوی برخی ته کوارټيل ويل کيږی .

عموماً دوه ډوله کوارټيل وجودلری $Q_1$ ته لومړی کوارټيل او $Q_3$ ته دريم کوارټيل وايل کيږی .

همدارنګه $Q_1$ او $Q_3$ ته ټيټ او لوړکوارټيل په ترتيب سره وايی. دويم کوارټيل $Q_2$ ته ميانه وايی.

کوارټيل دلاندی فورمولونوپواسطه پيداکوو.

$Q_1$= د $\frac{n+1}{4}$ رقم ارزښت      $Q_2$= د $\frac{2(n+1)}{4}$ رقم ارزښت      $Q_3$= د $\frac{3(n+1)}{4}$ رقم ارزښت

**لومړی مثال:** دلاندی مشاهداتوڅخه ټيټ کوارټيل ، دويم کوارټيل اولوړکوارټيل په لاس راوړئ

15 , 20 , 25 , 25 , 25 , 30 , 30 , 35 , 35 , 40 , 45

حل:

$\frac{n+1}{4} = c$      $\frac{11+1}{4} = 3 \Rightarrow r = 3 \hat{} w = 0$ (a

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$Q_1 = (1-w)X_r + w.x_{r+1} = (1-0)X_3 + 0 \cdot X_4 = X_3 \qquad Q_1 = 25$$

$$b)\ \frac{2(n+1)}{4} = C \Rightarrow \frac{2(11+1)}{4} = 6 \qquad ,r = 6\text{^}w = 0$$

$$Q_2 = (1-w)X_r + w \cdot X_{r+1} = (1-0)X_6 + 0 \cdot X_7 = X_6$$

$$\mathrm{Q_2 = X_6 = Me = 30}$$

$$\text{C)}\ \ \frac{\mathbf{3(n+1)}}{\mathbf{4}} = \mathbf{C} \Rightarrow \frac{\mathbf{3(11+1)}}{\mathbf{4}} = \mathbf{9} \quad ,\mathbf{r = 9\text{^}w = 0}$$

$$Q_3 = (1-w)X_r + w \cdot X_{r+1} = (1-0)X_9 + 0 \cdot X_{10} = X_9 \qquad Q_3 = X_9 \Rightarrow Q_3 = 35$$

د کوارتیل انحراف ضریب

د انحراف ضریب نظر کوارټايلونو ته چې لاندې په $V_q$ سره افاده شوي د هغوی په مجموعي باندې د دریم کوارټايل او لومړی کوارټايل د توپیر له نسبت څخه عبارت دی یعني:

$$V_q = \frac{Q_3 - Q_1}{Q_3 + Q_1} \cdots (17)$$

د مخکنيو انحرافونو ضریبونه کولای شو په کسري، اعشاري، یا څرنګه چې زیات معمول دې په فیصدۍ یي څرګندوو.

د مثال په ډول لکه څرنګه چې مخکې هم ولیدل شول د 142 کورنیو وسطي کلني عاید په وشنه کې.

$$Q_3 = 68.41$$

$$Q_1 = 67.21$$

نو وروسته پدې وېشنه کې:

$$V_q = \frac{68.41 - 67.21}{68.41 + 67.21} = \frac{1.20}{135.62} = 0.009 = 0.9\%$$

په لنډه توګه باید ووایو دوه یا زیاتې وېشنې د انحراف او خوریدنې له پلوه یواځې هغه وخت پرتله کولای شو چې د کټ مټ اوسط یا تقریبا داوسط لرونکې وي او په ورته (مشابه) واحد باندې افاده شوی وي پرته له دې باید د نسبي انحراف مقیاسونه په کار واچول شي.

استاد عبدالاحد ارين

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ویشنو د پرتلني (مقایسي) پر وخت باید خپله مقیاس په کار واچول. شي او نشو کولای $V$ یوه وېشنه یا $V_a$ او $V_q$ له بلي وېشني سره پرتله کړو، او همدارنګه نشو کولای $\delta$ یوه وېشنه یا $AD$ او $QD$ له بلي وېشني سره پرتله کړو.

**2. دیسایل (Deciles):** په دی کې معلومات په لسو مساوی برخو وېشل کیږی او په $D_1$ $D_2, \ldots D_9$ یی وښو. پنځم ډیسایل د میانی څخه عبارت دی.

$D_1 =$ د $\frac{n+1}{10}$ رقم ارزښت

$D_2 =$ د $\frac{2(n+1)}{10}$ رقم ارزښت

....................

....................

$D_9 =$ د $\frac{9(n+1)}{10}$ رقم ارزښت

**لومړی مثال:** په لاندی معلوماتو کې $D_3$ او $D_5$ پیداکړی.

82, 53, 54, 62, 60, 63, 46

لومړی معلومات په صعودی ډول تر تیبوو.

46, 53, 54, 60, 62, 63, 82

a) $\frac{3(n+1)}{10} = C \Rightarrow 3\frac{(7+1)}{10} = 2.4$

r =2 w =0.4

$D_3 = (1-w)X_r + w \cdot X_{r+1} = (1-0.4)X_2 + 0.4 \cdot X_3$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$D_3 = 0.6(53) + 0.4(54) = 31.8 + 21.6 = 53.4$$

b) $\frac{5(n+1)}{10} = C \Rightarrow 5\frac{(7+1)}{10} = 4$

$$D_5 = (1-w)X_r + w \cdot X_{r+1} = (1-0)X_4 + w \cdot X_5 = X_4$$

$$D_5 = 60$$

**3 . پرسنټیل (Percentiles):** په دی کی معلومات په سلو مساوی برخو وېشل کیږی او په $P_1$ , $P_2$ ......$P_{99}$ یی ښیو، $P_{50}$ د میانی ځخه عبارت دی.

$P_1$=ارزښت رقم $\frac{(n+1)}{100}$ د

$P_2$=ارزښت رقم $\frac{2(n+1)}{100}$ د

....................

....................

$P_{99}$= ارزښت رقم $\frac{99(n+1)}{100}$ د

لومړی مثال: په لاندی معلوماتو کی $P_{30}$ او $P_{60}$ پیداکړئ.

82, 53, 54, 62, 60, 63, 46

لومړی معلومات په صعودی ډول تر تیبوو.

46, 53, 54, 60, 62, 63, 82

$a)\ \frac{30(n+1)}{100} = C \Rightarrow \frac{30(7+1)}{100} = 2.4 \qquad r = 2\text{^}w = 0.4$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$P_{30} = (1 - w)X_r + w \cdot X_{r+1} = (1 - 0.4)X_2 + 0.4 \cdot X_3$

$=0.6\,(53)+0.4(54)=53.4 \Rightarrow \quad P_{30} = 53.4$

b) $\frac{60(n+1)}{100} = C \Rightarrow \frac{60(7+1)}{100} = 4.8 \quad r = 4\text{^}w = 0.8$

$P_{60} = (1 - w)X_r + w \cdot X_{r+1} = (1 - 0.8)X_4 + 0.8 \cdot X_5$

$$P_{60} = 0.2(60) + 0.8(62) =\Rightarrow P_{60} = 61.6$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم فصل

تصادفی متحول او د هغه واریانس ،دریاضی امید او معیاری انحراف

### 3.1 داحتمالاتوتابع

تعریف۱: فرضوچې Xيواتفاقي متحول او $x_1, x_2 ... x_n$ دنوموړي اتفاقي متحول ارزښتونه دي پدې صورت کې دنوموړي متحول داحتمالا توتابع دی چې دXمتحول دهریوه ارزښت دتحقیق پیداکولواحتمال توضح کوي یاپه بل عبارت : احتمال ددې چې Xاتفاقي متحول د $x_i$ ارزښت ولري داحتمالاتو په تیوری کې داحتمالاتو دتابع په نامه یادیږي په ریاضیکې توګه کولای شوهغه په لاندې ډول سره افاده کړو:

$$F_x(x_i) = P(X = x_i), \qquad i = 1,2,3...n$$

تریف۲: هغه تصادفی متحول چی په احصایه او احتمالاتو کی تر څیرنی لاندی نیول کیږی عبارت له هغه تابع څخه دی چی دتعریف ناحیه یی نمونیی فضضاء او دقیمتونو ناحیه یی حقیقی اعداد وی

که ، $p(X = x_i)$ ولرو نو $[x_1, f(x_1)], [x_2, f(x_2)] ... [x_n, f(x_n)]$ ته د مجزا (کسسته) احتمال تابع وایی.

د تجمعی او پیوسته احتمال تابع په $F(x) = p(X \le x)$ بڼه ښودل کیږی.

دیوه اتفاقي متحول داحتمالا توتابع لاندېني مشخصات لري :

(c) ketabton.com: The Digital Library



1) $P(X = x_i) = F_x(x_i) \geq 0$ 1)  2) $\sum_{i=1}^{n} F_x(x_i) = 1$

### 3.2 د ریاضی تمه (امید) (math expectation)

که $x$ نا ثاپی مجزا متحول وی په دی حالت کی اوسط ( expected value ) چی د $x$ تصادفی مجزا

متحول چی د **E(*X*)** په بنه ښودل کیږی عبارت دی له $E(X) = \sum_x x\, P(X = x)$

یا $E(x) = x_1 f(x_1) + x_2 f(x_2) \ldots x_n f(x_n) = \sum_{i=1}^{n} x_i f(x_i)$............*

که $f(x_i) = p_i$ سره وښیو چی احتمال دی نو د ریاضی امید په لاندی ډول هم لیکلای سو

$+x_2 p_2 + x_3 p_3 + \ldots + x_n\, p_n = \sum_{i=1}^{n} x_i\, p_i E = E(\mathrm{x}) = x_1 p_1$

$E(x) = \sum_{i=1}^{n} x_i p_i$..................**

په هغه صورت کی چی X لایتناهی قیمتونه واخلی د ریاضی امید یی په لاندی ډول دی
$E = E(\mathrm{x}) = \sum_{i=1}^{\infty} x_i\, p_i$
په پورته فورمول کی $p$ احتمال دی

*همدا ډول که* k *یو مثبت عدد وي نو:* $E(X^k) = \sum_x x^k\, P(X = x)$

که تصادفی متحول د n مقدار سره راکړل سوی وی او احتمال یی یوشان وی یعنی $p_j$ =1/n
نوپه دی صورت دریاضی امید (اوسط) عبارت دی له

$$E = x_1\left(\frac{1}{n}\right) + x_2\left(\frac{1}{n}\right) + x_3\left(\frac{1}{n}\right) + \ldots + x_n\left(\frac{1}{n}\right) = \frac{x_1 + x_2 + x_3 + \ldots\ldots x_n}{n} = \bar{x}$$

*تعریف: که چیرېx یو تصادفي متغیر وي، د* x *واریانس د* V(X) *په بنه ښودل کیږی او داسی تعریف شویدی*

$$V(X) = E[(X - E(X))^2].$$

یا $V(X) = E(X^2) - [E(X)]^2$

(c) ketabton.com: The Digital Library



معیاری انحراف عبارت له : $\sigma = \sqrt{V(X)}$

مثال: د لاندی جدول کی په پنځه نمریی تیست کی په ترتیب سره د ۲،۳،۴،۵ نمرو اخستلو احتمال درکړی

سوی دی د ریاضی امید یی پیدا کړی (د نمرو اخستلو احتمالی اوسط) پیداکړی

| $x$ | 2 | 3 | 4 | 5 |
|---|---|---|---|---|
| p | 0.2 | 0.4 | 0.3 | 0.1 |

حل: $E(x) = \sum_{i=1}^{n} x_i p_i = x_1p_1 + x_2p_2 + x_3p_3 + x_4p_4 = 2(0.2) + 3(0.4) + 4(0.3) + 5(0.1) = 3.3$

د پورته احتمال پر بنسټ ویلای سو چی په پنځه نمریی ازموینه کی به ۳،۳ نمری واخستل سی

**دریاضی د امید خواص**.

په هغه صورت کی چی متحولین x ,y تصادفی وی او c حقیقی عدد وی

1) E(cx)=cE(x)    2 . E(X+Y)=E(X)+E(Y)

3 . E(XY)=E(X)E(Y)    (۴) E(a) = a    (۵) E(aX + b) = a E(X) + b

$$1. E(cx) = \sum_x cf(x) = c\sum_x xf(x) = cE(x$$

تیورم: د یو شمیر تصادفي متغیرونو د مجموعي امید ( تمه) مساوي ده د هغوی د امیدونو د مجموعی سره

ثبوت: راځئ چې د x او y تصادفي متغیرونه په پام کې ونیسو. داسی چې د x . xi د مقادرو څخه دی

او i = 1, 2, 3, . . .,m همد انګه د $y$ لپاره j = 1, 2, 3, . . . ,n

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$E(x+y) = \sum_{j=1}^{n}\sum_{i=1}^{m}(x_i + y_j)P_{ij} =$$

$$= \sum_{j=1}^{n}\sum_{i=1}^{m} x_i \; P_{ij} + \sum_{j=1}^{n}\sum_{i=1}^{m} y_j \; P_{ij}$$

$$= \sum_{i=1}^{m} x_i \left(\sum_{j=1}^{n} P_{ij}\right) + \sum_{i=1}^{m} y_j \left(\sum_{j=1}^{n} P_{ij}\right)$$

$$= \sum_{i} x_i P_{ij} + \sum_{j} y_j P_{ij} = E(x) + E(y)$$

$$\therefore \; E(x+y) = E(x) + E(y)$$

$$\text{Since } \sum_{j=1\,to\,n} P_{ij} = P_j \text{ and } \sum_{i\;=1\,to\,m} P_{ij} = Pi\,.$$

د پورته ثبوت پربنسټ لرو: $E(x_1 + x_2 + x_3 + \ldots + x_n) = E(x_1) + E(x_2) + E(x_3) \ldots\ldots + E(x_n)$ .

یا په لنډ ډول:

$$2. E(x+y) = \sum\sum(x+y)f(x,y) = \sum\sum xf(x,y + \sum\sum yf(x,y) = E(x)+E(Y)$$

تیورم: د یو شمیر خپلواکو تصادفي متحولونو د حاصل ضرب ریاضیکی تمه د دوی د تمو له حاصل ضرب سره مساوي ده.

یعنی:

$$E(x\,y) = \sum_{j}\sum_{i} x_i\, y_j\, P_{ij}$$

ثبوت : د قانون په اساس لرو $P_{ij} = P_i \; P_j$

$$\sum_{j}\sum_{i} x_i \; P_i \; y_j \; P_j = \sum_{i} x_i \; P_j \sum_{j} y_j \; P_j = \sum_{i} P_i\, x_i \; E(y) = E(y)\sum_{i} P_i\, x_i = E(x)\,E(y)$$

یا: $3.\ E(xy) = \sum\sum xyf(x,y) = \sum_x [xf(x)\sum_y yf(y)] = \sum_x [xf(x)E(y)] = E(x)E(y)$:

د پورته ثبوت پر بنسټ لیکلای سو. $E(x_1 .\, x_2 .\, x_3 \ldots\ldots x_n) = E(x_1) \,.\, E(x_2) \,.\, E(x_3) \ldots\ldots E(x_n)$.

یادونه: $E(x, y) = E(x)\,E(y)$ د x او y خپلواکي تضمین نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*تعریف: که چیریxیو تصادفي متغیر وي، د x واریانس د* V(X) *په بنه ښودل کیږی او داسی تعریف شویدی*

$$V(X) = E[(X - E(X))^2].$$

یا $V(X) = E(X^2) - [E(X)]^2$

معیاری انحراف عبارت له : $\sigma = \sqrt{V(X)}$

$$V(x) = \sigma^2 = E\left[(x - E(x))^2\right] = E\left[(x-\mu)^2\right] =$$

$$= \sum_{\text{all } x}(x-\mu)^2 p(x) = \sum_{\text{all } x}\left(x^2 - 2x\mu + \mu^2\right)p(x) =$$

$$= \sum_{\text{all } x} x^2 p(x) - 2\mu \sum_{\text{all } x} xp(x) + \mu^2 \sum_{\text{all } x} p(x) =$$

$$= E\left[x^2\right] - 2\mu(\mu) + \mu^2(1) = E\left[x^2\right] - \mu^2 = E[x^2] - [E[x]]^2$$

$$\text{Standard Deviation}: \sigma = +\sqrt{\sigma^2}$$

$$\ldots\ldots ***V(x) = \sigma^2 = E[x^2] - [E[x]]^2$$

*د واریانس ځینی خواص:*

(a ) $V(a) = 0$　　　(b) $V(aX \pm b) = a^2\, V(X)$

(c) $V(aX + bY) = a^2\, \sigma^2_X + b^2_Y + 2ab\, \sigma_{XY}$.

دبرنولی په توزیع کی دریاضی امید او واریانس

دبرنولی په توزیع کی چی p کامیابی او q ناکامی نومول سویده د x=0 لپاره ناکامی او د x=1 لپاره

کامیابی ده چی په لاندی ډول ده

| X | 0 | 1 |
|---|---|---|
| P | Q | P |

استاد عبدالاحد ارین

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(1)=p(x=1)=p,\quad f(0)=p(x=0)=q=1-p\ ,\quad 0\le p\le 1$$
$$,\ f(x)=\{p,\quad x=1\}f(x)=\{p^x(1-p)^{1-x}\ ,x=0,\ \}$$

$$E(X)=\sum_x xP(x)=(0)(1-p)+(1)(p)=p$$
$$Var(X)=\sum_x (x-p)^2P(x)=(0-p)^2(1-p)+(1-p)^2(p)$$
$$=p(1-p)(p+1-p)=p(1-p)=pq$$

**3.3 دبینومیل توزیع دریاضی امید او واریانس Mean and variance of the Binomial distribution**دوه حده توزیع دبرنولی دتوزیع په شان ده چی د n تجربولپاره یی احتمال یوشان دی او په

B(n,p) سره ښودل کیږی >چی p احتمال او n دتجربوشمیر دی او د k کامیابیو لپاره په لاندی ډول لیکل کیږی

$$p(k)=\binom{n}{k}p^kq^{n-k}$$

$$X=X_1+\dots+X_n$$

$$E(X)=E(X_1+\dots+X_n)=E(X_1)+\dots+E(X_n)=p+\dots+p=np$$

$$Var(X)=Var(X_1+\dots+X_n)=Var(X_1)+\dots+Var(X_n)=np(1-p)=npq$$

یا :

$$Mean\ =\mu=\sum_{x=0}^{n}x.b(x;n,p)$$
$$=\sum_{x=0}^{n}x.\frac{n!}{x!(n-x)!}\,p^x\,q^{(n-x)}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$= \sum_{x=1}^{n} \frac{n!}{(x-1)!(n-x)!} p^x q^{(n-x)}$$

$$= np \sum_{x=1}^{n} \frac{(n-1)!}{(x-1)!(n-x)!} p^{x-1} q^{(n-x)}$$

Put y = x – 1, ∴ x = 1 + y

When x = 1 implies y = 0

x = 1 implies y = x – 1

$$= np \sum_{y=0}^{n-1} {}^{(n-1)}C_y \, p^y q^{(n-y-1)}$$

$$= np \, (q+p)^{(n-1)}$$

So, μ = np is Mean of Binomial distribution.

### Variance of the Binomial Distribution د بینومیل توزیع واریانس 3.4

$$E(X)^2 = \sum_{x=0}^{n} x^2 \; b(x,n,p)$$

$$= \sum_{x=0}^{n} [x(x-1)+x] \, b(x,n,p)$$

$$= \sum_{x=0}^{n} x(x-1) \; b(x,n,p) + \sum_{x=0}^{n} x \, b(x,n,p)$$

$$= \sum_{x=0}^{n} x(x-1) \; \frac{n!}{x! \, (n-x)!} p^x q^{(n-x)} + \mu$$

$$= \sum_{x=2}^{n} \frac{n!}{(x-2)! \, (n-x)!} p^x q^{(n-x)} + np$$

$$= n(n-1) \, p^2 \sum_{x=2}^{n} \frac{(n-2)!}{(x-2)! \, (n-x)!} p^{(x-2)} q^{(n-x)} + np$$

y = x – 2 ∴ x = 2 + y

x = 2 ⟹ y = 0

که x = n imples y = n - 2

$$= n(n-1) \, p^2 \sum_{y=0}^{n-2} \frac{(n-2)!}{y! \, (n-2-y)!} p^y q^{(n-2-y)} + np$$

